## د سولې د مشورتي لويې جرګې پرېکړه لیک

## د ۱۳۹۸ کال د غويي د مياشتې له ۹مې تر ۱۳مې نېټې پورې

## د لويې جرګې تالار – کابل

### بسم الله الرحمن الرحيم

د (( وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ)) له مبارک آيت څخه په الهام اخيستنې او د جمهوري رياست د عالي مقام د ۱۶۲ ګڼې فرمان د حکم په رڼا کې چې د ۱۳۹۷ کال د کب مياشتې په ۲۰ مه نېټه صادر شو، موږ د سولې د مشورتي لويې جرګې ۳۲۰۰ تنه غړي چې له لاندې کټګوريو څخه تشکيل شوي يو: د ملي شورا په دواړو مجلسينو کې د ملت منتخب استازي، د افغانستان علما او روحانيون، د ولايتي شوراګانو غړي، د سولې د عالي شورا غړي، د مدني بنسټونو او ټولنيزو سازمانونو استازي، د سولې لپاره د ښځو استازي، د خصوصي سکټور استازي، اکاډميک او علمي بنسټونه، ليکوالان او شاعران، هنرمندان، د ځوانانو ملي او مدني بنسټونه، رسنۍ، د حقوق پوهانو اتحاديې او د افغانستان د مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه، ثبت شوي سياسي ګوندونه، د ورزش د ډګر لوبغاړي، د جګړې له امله معلوليت لرونکي اشخاص، د امنيتي او دفاعي ځواکونو د قربانيانو کورنۍ، د تېرې ۱۸ کلنې جګړې د قربانيانو کورنۍ، د سولې لپاره د هلمند د ولسي خوځښت استازي، په پاکستان او ايران کې د استوګنو افغان مهاجرينو استازي، په بهر کې د مېشتو افغان متخصصينو استازي، کوچيان، اهل هنود او سکان او د ټولنې د نورو مخورو او متخصصو قشرونو استازي. موږ د ۱۳۹۸ کال د غويي مياشتې له ۹مې څخه تر ۱۳ مې نېټې پورې د پنځو ورځو لپاره د سولې په مشورتي لويه جرګه کې سره راټول شوو، څو خپلې مشورې او نظريات د سولې د تعريف او د طالبانو له تحريک سره د سولې د خبرو اترو لپاره د چوکاټ او حدودو د تعيين په موخه د افغانستان د سولې په پروسه کې ښکېلو اړخونو ته وړاندې کړو.

موږ د سولې د مشورتي لويې جرګې غړي د افغانستان د ټول درانه او باعزته ملت په استازيتوب، د کلونو، کلونو جګړې، وينې تويدنې، بې وزلۍ او محروميت، مهاجرتونو او بې کوريو په زغملو سره، د خپلو اسلامي او ملي مکلفيتونو په درک کولو سره، دې ټکي ته په پام سره چې سوله د هر افغان

د زړه غوښتنه او حیاتي اړتیا ده او دا چې تلپاتې او باعزته سوله یوازې د جګړې د پای ته رسېدلو په مانا نه؛ بلکې په دې مانا ده چې په لړ کې یې جګړه ژر تر ژره پای ته ورسېږي، ملي ګټې خوندي شي، د هېواد د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا لپاره متې رابډوهل شي، فقر له منځه یووړل شي، په هېواد کې سیاسي ثبات او په سیمه یزه او نړیواله کچه اجماع رامنځته شي، همغږي یو. موږ دوامدارې او هر اړخیزې سولې ته د رسېدو او عامه سوکالۍ لپاره، په لوی سر کې د افغانستان د ستر ملت او په ځانګړې توګه د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو له ټینګ هوډ، زغم، حوصلې او پرلپسې قربانیو څخه قدرداني کوو. موږ د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت څخه هم مننه کوو چې په ابتکار یې، د افغانستان د ستر ملت استازي د جګړې د پای ته رسولو، وینې تویېدنې د مخنیوي او تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره د سلا مشورو په موخه سره جرګه شول. موږ په افغان سوله کې د نړیوالې ټولنې له هڅو هم مننه کوو. یو ځل بیا په داسې حال کې چې په اسلامي ارزښتونو، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ټینګار کوو، زموږ ټولو د راټولېدو یوازینۍ موخه دا ده چې د افغانستان د سولې په پروسه کې ټولو ښکېلو اړخونو ته د سوله د غوښتلو پیغامونه ورسوو.

موږ د سولې د مشورتي لویې جرګې غړو، له تعیین شوې اجنډا سره سم په پنځوس ګونو کمېټو او عمومي غونډه کې هر اړخیز بحثونه وکړل او د لاندې ټکو پر سر مو هوکړه وکړه:

۱. موږ د دې جرګې ګډونوالو په هېواد کې د تلپاتې سولې د راوستلو لپاره مصمم او ژمن یو.

۲. د سولې د مشورتي لویې جرګې غړي د طالبانو له تحریک څخه غواړي چې د جګړې او وینې تویېدنې ناوړو پایلو ته په پام سره، د دغې عظیمې کتلې غږ ته چې د هېواد له ګوټ، ګوټ څخه استازولي کوي، غوږ ونیسي، له تاوتریخوالي څخه دې لاس واخلي او د ګران هېواد افغانستان په بیارغونه کې دې ونډه واخلي. په دې حقیقت ټول ښه پوهېږو چې جګړه ګټونکی او سوله بایلونکی نه لري.

۳. په افغانستان کې د جګړې یو لامل دا دی چې د اسلام له سپېڅلي دین څخه مختلف برداشتونه او قرائتونه کېږي. د سولې د مشورتي لویې جرګې غړي دولت، د طالبانو تحریک او علماوو ته وړاندیز کوي څو د اسلام له سپېڅلي دین څخه خپل تفسیر واحد کړي او دا تفسیر د همغږۍ او ملي یووالي وسیله وګرځوي.

۴. د افغانستان اسلامي جمهوریت او د طالبانو تحریک باید د غوڅ اکثریت افغانانو غږ ته لبیک ووایي، د روان کال د روژې د مبارکې میاشتې له رارسېدو سره سم؛ د دغې مبارکې میاشتې حرمت ته په درناوي، د تاوتریخوالي پای ته رسولو او د جګړې د دوامړو لوریو تر منځ

د باور د فضــا رامنځته کولو  او یو د بل پر وړاندې د منفي تبلیغاتو د پای ته رســولو لپاره په ټول هېواد کې بیړنی او دایمي اوربند اعلان او تطبیق کړي.

۵. اسـلامي جمهوري نظام د افغانسـتان د خلکو سـتره لاس ته راوړنه او د کلونو، کلونو قربانیو او مجاهدت حاصل دی. په افغانستان کې د سولې استقرار او استحکام باید د (د افغانستان اسلامي جمهوریت) د نظام په نوعیت سره او د بین الافغاني خبرو اترو  له لارې ترسره شي.

۶. د افغانستان اوسنی اساسي قانون د افغانسـتان د ملت یوه ملي او ارزښتمنه وثیقه ده چې باید وساتل شي. خو، د اړتیا په صورت کې، د دغه اساسي قانون د یو شمېر موادو تعدیل د سولې له هوکړه لیک څخه وروسته، د هغه اصولي او منل شوی میکانیزم له لارې ممکن دی چې په همدغه اساسي قانون کې یې وړاندوینه شوې ده.

۷. د افغانستان په اساسي قانون کې درج شوي د اتباعو اساسي حقوق چې پکې د ښځینه و او نارینه و مساوي حقوق، د سیاسي او مدني مشارکت حق، د بیان د آزادۍ حق، د زده کړو او کار حق، عامه خدماتو ته د لاسرسۍ حق او د ماشومانو او قومي او مذهبي لږه کیو حقوق شـاملېږي؛ باید د سـولې د ټینګښـت د بنسـټیزو پایو په توګه، د سـولې د پروسـې په لړ کې محفوظ او لادېر پیاوړي شي.

۸. زموږ امنیتي او دفاعي ځواکونه د هېواد اتلان دي، د تلپاتې سولې د ټینګښت او دوام لپاره ځواکمنو ملي امنیتي او دفاعي بنسټونو ته اړتیا لرو. ځکه نو، د افغانستان خلک د سولې د مشورتي لویې جرګې له آدرس څخه د دغو بنسټونو پر ساتنې او لاپیاوړتیا ټینګار کوي.

۹. د سـولې د مشـورتي لویې جرګې غړي د افغانسـتان له اسـلامي جمهوریت او په افغان سـوله کې له ټولو ښــکېلو هېوادونو څخه غواړي چې د خپلو ګډو هڅو او تفاهم له لارې دې، له قطر هېواد څخه افغانستان ته د طالبانو د سیاسي دفتر د لېږد زمینه برابره کړي.

۱۰.        د سولې د مشورتي لویې جرګې غړي د افغانستان له حکومت څخه په ټینګه غواړي چې له نړیوالې ټولنې ســره په نږدې همغږۍ او دوو لســیزو څخه د زیاتې مودې د لاس ته راوړنو او ارزښتونو د ساتنې لپاره د سولې په پروسه کې له ټولو ښکېلو اړخونو سره تر تفاهم وروسـته دې، له افغانسـتان څخه د بهرنیو ځواکونو د مسـوولانه وتلو لپاره عملي مهالوېش ترتیب او تنظیم کړي.

۱۱.        د سـولې د مشـورتي لویې جرګې غړي د هېواد په دغو حسـاسـو، تاریخي او برخلیک ټاکونکو شـرایطو کې د افغانسـتان له سـیاسـي ګوندونو، سـیاسـي جریانونو، اغیزناکو ملي شـخصـیتونو او د افغانسـتان له دولت څخه غواړي چې له لاس ته راغلو فرصـتونو او په کور دننه سـیاسـي اجماع څخه دې د سـولې د پروسـې د پیاوړتیا لپاره ګټه پورته کړي او د سـولې بین الافغاني خبرو اترو ته دې له یو واحد او افغانستان شموله آدرس څخه دننه شي.

۱۲. د سولې په پروسه کې ټول شکېل اړخونه باید د هر ډول داسې مخکنیو شرطونو څخه ډډه وکړي چې د سولې د بین الافغاني خبرو اترو پر وړاندې خنډونه راولاړوي.

۱۳. ټول شکېل اړخونه باید یو د بل له بندیانو او زندانیانو سره په اسلامي روحیه او ښه توګه چلند وکړي او د رغنده او نرمو لارو چارو څخه په ګټې اخیستنې سره د بندیانو د تبادلې او زندانیانو د آزادۍ لپاره داسې اقدامات ترسره کړي چې د دواړو اړخونو تر منځ د باور جوړونې او نېک نیتۍ فضا لازیاته جوړه کړي.

۱۴. دوامدارې سولې ته د رسېدو لپاره سیمه ییزه او نړیواله اجماع یوه اړینه او حیاتي چاره ده. څکه نو، د جرګې غړي د لرې او نږدې سیمې او نړیوالې ټولنې له هېوادونو څخه غواړي چې په افغانستان کې د سولې د ټینګېدو په برخه کې خپلې هڅې همغږې کړي او د افغانستان د دولت رول د خپلو نوښتونو او کوښښونو په محوریت کې وساتي.

۱۵. د سولې د مشورتي لویې جرګې غړي د رایو په اتفاق سره د افغانستان له حکومت څخه غواړي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ښه ګاونډیتوب پر سیاست ټینګار وکړي او د افغانستان په چارو کې د سیمه ییزو مداخلاتو د دوام په صورت کې دې په رسمي توګه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته د افغانستان شکایت وړاندې کړي.

۱۶. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت باید له اغیزناکو ملي، سیاسي او ټولنیزو آدرسونو سره تر سلامشورې وروسته، د طالبانو له تحریک سره د سولې د بهیر د چټکتیا او له دغې ډلې سره د سولې د مخامخ خبرو اترو د پیلولو په موخه، د سولې په مشورتي لویه جرګه کې د خلکو د استازو د مشورو په رڼا کې، یو هر اړخیز او ټول شموله پروګرام تدوین او پلی کړی.

۱۷. دې اړتیا ته په پام سره چې د سولې د پروسې د آسانۍ لپاره دې یو بې طرفه بنسټ شتون ولري، د سولې د مشورتي لویې جرګې غړي ټینګار کوي چې د سولې د عالي شورا په جوړښت، تشکیلاتو، فعالیتونو او حساب ورکړې کې دې بنسټیز اصلاحات راوړل شي.

۱۸. د سولې د مشورتي لویې جرګې غړي تېرو تجربو ته په پام سره، وړاندیز کوي چې د افغانستان حکومت دې د سولې د خبرو اترو لپاره داسې پلاوی وړاندې کړي چې له جهادي او ملي شخصیتونو، متخصصینو، تجربه لرونکو، نېک نومو، د بشري حقونو ارزښتونو ته له ژمنو او سوله غوښتونکو کسانو جوړ وي. د سولې دا پلاوی باید د مدیریت کېدو وړ (حد اکثر ۵۰ تنه) داسې چې قومي ترکیب ولري، او دا خبره تضمین کړي چې د سولې د دغه پلاوي په تشکیل کې دې د هېواد جید علما، ښځې، ځوانان، د جګړې د قربانیانو کورنۍ، لېره کې، د مهاجرینو، مدني ټولنې او رسنیو استازي، کوچیان د ټولنې د بېلابېلو قشرونو او صنفونو استازي او د سولې د مشورتي لویې جرګې یو شمېر غړي شامل وي.

۱۹. د سولې د مشورتي لويې جرګې غړي د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت څخه غواړي چې د سولې د پروسې د آسانولو او چټکتيا په موخه دې، د طالبانو تحريک مشروع غوښتنې او مطالبات تشخيص کړي او د باور جوړونې لپاره دې د دغو غوښتنو پر وړاندې لازم او مشروع اقدامات ترسره کړي.

۲۰. موږ د سولې د مشورتي لويې جرګې غړي ژمنه کوو چې د سولې د پيغام وړونکو په توګه به خپلو کليو او سيمو ته د بېرته ستنېدو پر مهال د دغې جرګې پيغام خپلو خلکو ته رسوو او په دغه لاره کې به د سيمه ييزو ادارو، قومي مشرانو، ځوانانو او ښځو په همکارۍ هر اړخيزې هڅې او کوښښونه کوو، څو د سولې د تأمين په پروسه کې خپله ديني او ملي ونډه په ښه ډول ترسره کړو.

۲۱. د سولې د مشورتي لويې جرګې غړي له دولت څخه غواړي چې د سولې د مشورتي لويې جرګې له غړو او اغېزناکو بنسټونو سره دې خپل اړيکې ټينګې وساتي او تل دې د دغې جرګې غړي د جرګې د مشورو له پلي کېدو او د سولې د خبرو اترو له پرمختګ څخه باخبره وساتي.

۲۲. د سولې د مشورتي لويې جرګې غړي د دغه پرېکړه ليک پر موادو د ټينګار په ترڅ کې، د افغانستان له دولت، د طالبانو له اسلامي تحريک، نړيوالې ټولنې، د سيمې له هېوادونو د سولې په پروسه کې پر نورو ټولو ښکېلو اړخونو غږ کوي چې د افغانستان د خلکو د برحقو غوښتنو او مطالباتو او د دغې تاريخي لويې جرګې مشورو ته دې درناوی وکړي او په جدي او صادقانه ډول دې د سولې په استقرار او استحکام، د جګړې له دوام، تشديد او د بې ګناه ملکي وګړو له تلفاتو څخه د مخنيوي په موخه خپلې هڅې او عملي اقدامات ترسره کړي.

۲۳. د سولې د مشورتي لويې جرګې غړي د دغې تاريخي لويې جرګې د اهميت له کبله د سولې د مشورتي لويې جرګې له رييس او اداري پلاوي څخه غواړي چې د پنځوس ګونو کمېټو ټول ليدلوري، نظريات، وړانديزونه او بحثونه دې په يو رسمي سند کې چاپ او خپاره کړي.

و من الله التوفيق

د سولې د مشورتي لويې جرګې غړي

د لويې جرګې تالار

کابل - افغانستان